سوله محمدي
۲۰۲۰/۰۹/۲۸

# له نجیب الله احمدزي نه

# تر

# غني احمدزي پورې!

په افغان حکومت کې یوشمېر کړی د سولې او طالبانو د واک سرسخت مخالفت کوي، غواړي چې د سولې پروسې ته مذهبي، قومي او سمتي رنګ ورکړي، مذهبونه، قومونه او سمتونه سره مخامخ، دغه پروسه ناکامه او خپل واک او بقا ورسره تضمین کړي.

دغه کړیو د خلکو د اغوا کولو لپاره د رسنیو له لارې د سولې او طالبانو پرضد ډېر پراخه تبلیغات پیل کړي او د پردې تر شا یې هوکړه کړې، چې هېڅکله به د سولې اړوند د طالبانو او ولس د غوښتنو په وړاندې تمکین ونه کړي او برعکس د مذاکراتو مېز ته به داسې مذهبي، قومي او نور لانجمن مسایل راوړاندې کړي چې اصلاً اړتیا ورته نه لیدل کېږي، د سولې خبرې نه دي او د سولې او مذاکراتو اجنډا نه جوړوي، بلکې تشې خبرې او احساسات پارونکي دي او د قومونو ترمنځ کشمکش او مخامخوالی رامنځته کوي.

همدا اوس جمهور رییس او د هغه مرستیالان د ملي امنیت اداري له خوا د تاجکانو، ازبکانو او هزاره ګانو یوشمېر غیرمسووله وسله وال او اوباشان په وسلو سمبالوي او د طالبانو پرضد یې جګړو ته هڅوی او استوي.

همدا راز د کابل او نورو ښارونو دننه خپل سنګرونه، قرارګاوې او کورونه په نویو سمېټي تختو او موانعو پوښي او ټینګوي او د جګړو له پاره تیاری نیسي.

همدغه حقیقت ته په کتو ولس د دغو فاسدو کړیو او چاړواکو په نیت شک لري او حرکات یې له نږدې څاري او لیدل کېږي چې دغه کړی پخپل منافقت او د سولې په مخنیوي سره عمداً غواړي د ډاکتر نجیب الله تېروتنې تکرار او هېواد یوې بلې قومي جګړې ته بوسي.

دغه کړی او چاړواکي له څلورو میاشتو راپه دې خوا لګیا دي د شمال ټلوالې جنګسالارانو او قومندانانو ته وسلې وېشي او پخپل دغه کار سره غواړي سوله ګډوډه او له طالبانو او پښتنو سره د نورو قومونو مخامخوالي ته لمن ووهي.

ډاکتر نجیب الله هم هغه مهال خپلو وسله والو څواکونو ته دستور ورکړی و، چې د حزب اسلامي او نورو تنظیمونو پرځای دې د جمعیت تنظیم او شمال ټلوالي ته تسلیم شي.

هغه مهال ډاکتر نجیب الله هم ځان او هم رانسکوره شوی حکومت د شمال ټلوالي غېږ ته ورګوزار کړ، خو هغه تنظیم ونه کولای شول هېواد اداره، خلکو ته د منلو وړ یو نظام رامنځته، سوله او امنیت راولي، بلکې د قومي، مذهبي، تنظیمي او سمتي جګړو لور ته لاړ، هېواد یې نور هم وران ویجاړ، په لکونو هېوادوال یې ووژل او په پای کې یې له خپل ولینعمت نجیب الله احمدزی سره هم جفا وکړه او نوموړی یې د ژوند تر پایه له دې وېرې چې په خلکو کې نفوذ لري او حکومت ته یې ګواښ پېښ نه کړي، د ملګرو ملتونو د دفتر په مېلمستون کې بندي وساته او هېڅکله یې ازاد نه کړ.

تر اوسه چې لیدل شوي حکومت همغو انحصارګرو کړیو یرغمل کړی او د هېوادوالو پرمخ یې د سولې او سوکالی دروازې تړلې دي چې نجیب الله ورته سپارلی و او د سولې په برخه کې چې هم د حکومت تر نامه لاندې کومې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هڅې ترسره کېږي، د ولسونو استازولي نه کوي بلکې د همدغو کړيو د واک د بقا لپاره د سولې د شنډولو هڅې دي او دغه کړۍ او اشخاص هېڅکله سولې ته ربښتيني نه وو او اوس هم ربښتيني نه ښکاري.
د بېلګې په ډول، په يوه سنتي ټولنه کې چې ډموکراسي او سياست په کې بنسټيز شوی نه وي، خلک د خپلو سياسي ستونزو د هوارې او نظام جوړولو لپاره د قانون او نورو اصولو پرځای مذهبي او قومي اصولو او سپارښتنو ته مراجعه کوي، قانون، واک او حکومت په دويم کتار مسايلو کې راځي، خو له طالبانو سره د افغان حکومت د مذاکرې په پلاوي کې ډېرى داسي کسان شامل دي، چې له دين او قرآن نه کافي پوهه نه لري او دوی نه شي کولای له طالبانو سره په قرآن او احاديثو استدلال وکړي او هوکړې ته سره ورسېږي.
همدا اوس د سولې د مذاکراتو دولتي پلاوی د خپل اسلامي جمهوريت او شرعي نظام ترمنځ په توپير نه پوهېږي.
بل پلو ته، د مذاکراتو مېز ته د غير اړينو مسايلو راوړل، له منافقت پرته بله څه معنا درلودای شي چې د اجنډا برخه يې نه وي. معلومېږي چې يوشمېر اشخاصو او کړيو د سولې د ناکامولو پر سر پيسي اخيستي او پکار ده چې دغه کسان تر څار او فشار لاندې ونيول شي.
يوه ماشوم ته هم څرګنده ده چې د سولې مذاکرات دوه بنسټيزې خبرې لري، يعنې راتلونکی نظام او په کې د واک معادله. دغه دوه اساسي خبرې يوشمېر طرزالعملونو او پرېکړه ليک ته اړتيا لري.
دا ټول څه لکه لمر خلکو ته روښانه دي او که معلوم الحاله منافقان غواړي دغه پروسه انحراف ته يوسي، نو د خلکو له سترګو يې پټه ساتلی نه شي.
په مذاکراتو کې د طالبانو غوښتنې دا دي:

۱ -راتلونکی نظام بايد يو شرعي اسلامی نظام وي.

۲ –د واک معادله يې د ټاکنو او يا هم د عقد او حل شورا له لارې تنظيم شي.

د دغه کار ترسره کولو ته دا طرزالعملونه وړانديزوي.
د راتلونکي نظام او دولت په راس کې دې د علماوو(مذهبي، سياسي، اقتصادي، ټولنيزو، فرهنګي او حرفوي مشرانو او علماوو) شورا ځای ولري. دغه شورا دې د دولت او وسله والو ځواکونو مشري کوي.
جمهوري رياست دې د حکومت او کابينې په راس کې وي او د ازادو او سراسري ټاکنو له لارې دې راځي او لکه قضاييه قوه دې پخپلو چارو کې پوره واک او خپلواکي ولري، خو د مسووليت له پلوه دې د علماوو شورا ته ځواب ويونکی وي.
د علماوو شورا دې له جمهور رييس نه د حساب اخيستلو او د هغه د لرې کولو واک ولري.
په دې توګه د واک او وجيبي(د صلاحيت د تمثيل او خدمتونو د وړاندې کولو) ترمنځ معقول تناسب او تعادل رامنځته کېدای او هم د واک له يرغمله مخنيوی کېدای شي، چې په برحاله نظام کې لويه ستونزه همدا د واک او خدمت ترمنځ د عدم تعادل او نامعقول تناسب ستونزه وه او د فساد زمينه هم همدغه کار رامنځته کړې وه.
په نظام کې د واک معادله هم همغه ازادې او سراسري ټاکنې دي، چې طالبانو لا له وړاندې ويلي چې د واک د انحصار په لټه کې نه دي، بايد د واک معادله په ځانګړو طرزالعملونو سره داسي تنظيم شي، چې ټولو خلکو او قومونو ته په حکومت کې د ګډون او حق ترلاسه کولو فرصت په لاس ورکړي، البته دا د راتلونکي حکومت او نظام کار دی.
طالبان دغو دوو مهمو عنصرونو ته د رسېدو لپاره لنډمهالی حکومت وړانديزوي چې څلور دندې به ولري:

۱ – د راتلونکي نظام لپاره د اساسی قانون جوړول.

۲ –د ۵۰ کلونو لپاره د هېوا د پراختيا پلان او ستراتيژي جوړول.

۳ –د سولې او امنيت ساتلو لپاره د نوي پوځی ساختار جوړول چې هم د دولت او هم د طالبانو جنګيالي په کې راټول شوي وي.

۴ –د رنو ټاکنو لپاره د زميني برابرول او د ټاکنو ترسره کول.

د افغان حکومت پلاوي وړانديزونه دا دي:

۱ –د اوربند اعلانېدل.

۲– تر پنځو کلونو د همدغه نظام او حکومت پاتې کېدل.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په څير و لولئ

۳ – په همدغه حکومت کې د طالبانو مدغمېدل.

۴ – په اساسي قانون کې ځینې تعدیلونه.

۵– تر پنځو کلونو وروسته د ټاکنو ترسره کول.

دلته تر ډېره د طالبانو غوښتنې د ولس، دین او تاریخ له غوښتنو سره سمون لري، خو برعکس د حکومت غوښتنې د ولس، دین او تاریخ له غوښتنو سره په ټکر کې دي او معلومه ده چې له ماتې سره به مخامخ کېږي.
له پورتنیو څرګندونو ښکارېږي چې د سولې مذاکراتو مېز ته د یوشمېر لانجمنو خبرو راوستو ته هېڅ اړتیا نشته لکه د مذهبي مسایلو، د مصنوعي تاریخونو جوړول، قومي مسایل، د ښځو حقونو تر عنوان لاندې د ګېسټ هاوسونو او سکرتریتونو مساله، د واک د معادلې په نوم مخکې له مخکې د سهامي شرکت په څېر زورمندانو او مافیایي کړیو ته د حکومت او دولت وېشل او نور.
د دې مسایلو د حل لپاره خپلې مراجع شته، پکار نه ده چې د سولې د مذاکرې مېز ته راشي، دغه مراجع د چا د پروا او خیال ساتلو پرته واقعیتونو ته په کتو خپل قضاوت به پرې لري او دغه مسایل به پخپلو مراجعو کې څېړل او حلېږي.
نوموړې مراجعې قرآن، سنت، تاریخ او ولس دي چې پورتنیو ستونزو او پوښتنو ته ځواب وایي او د فرد، تنظیم، کړۍ او ډلې قضاوت او منافقت ته په کې ځای نشته.
قرآن حق او باطل سره جلا کړي، سنتو هم هغه په ګوته کړي، تاریخ پرې شاهدي ویلې او قضاوت کړی او ولس پرې خپله خوښه او یا کرکه په ډاګه کړې ده.
دغو ټولو ته په پام، د سولې د مذاکراتو د طرزالعمل کومه خبره که لانجمنه وي نو کېدای شي چې د دواړو غاړو د هویت مساله وي چې په پای کې د سولې د پرېکړه د لاسلیکولو لپاره مهمه ده.
په دې برخه کې ښه خبره د تکریم ده چې دواړه غاړې دې په همغه نومونو یادې شي چې تراوسه یادېدې.
یعنې د طالبانو اسلامي امارت او د افغانستان اسلامي جمهوریت نومونه. په دې توګه به د دواړو غاړو کرامت پرځای او د نړیوالو په وړاندې به هم د دوی او هم د ملت عزت او پت وساتل شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ